دمونځ لفظي ترجمه اومسائل

دا رساله د تبليغي حضراتو دپاره او دمدرسواو
دسکول دماشومانو دپاره مکمل کورس دے
اودمسلمانانو دبچودتربيت دپاره بهترين کتاب دے

اهمے مسئلے

- دعقيدې بيان
- دکفر شرک بيان
- دغلطو رسمونو بيان
- آمنت بالله مع ترجمه
- مونځ مع ترجمه
- شپږ نمبرے
- (۴۰) احاديث مع ترجمه
- مسنون دعاګانے
- دمونځ فرض واجب وغيره
- داستخارے دعا
- زنانه به دچانه پرده کوي اودچانه نه
- د صلاة تسبيح طريقه
- دنکاح وغيره خطبے
- قنوتِ نازله مفصل



تاليف
مولانا محمد ابراهيم
مفتي رحمت الله امين صاحب

دارالعلوم ديوبند پشاور
هريانه روډ ټيوب ويل کورونه پشاور
0306-5909372

د مونځ لفظي ترجمه او مسائل

دا رساله د تبليغي حضراتو دپاره او د مدرسوا
د سکول د ماشومانو دپاره مکمل کورس دے
او د مسلمانانو د بچو د تربيت دپاره بهترين کتاب دے

تاليف

مولانا محمد ابراهيم

مفتي رحمت الله امين صاحب



اوويشتم ايډيشن

دارالعلوم ديوبند پشاور

هريانه روډ ټيوب ويل کورونه پشاور
0306-5909372

اول کلمہ طیب : لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ

دوم کلمہ شہادت : اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ؕ

سوم کلمہ تمجید : سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ ؕ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ ؕ

چہارم کلمہ توحید : لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَيٌّ لَّا يَمُوْتُ اَبَدًا اَبَدًا ؕ ذُو الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ ؕ بِيَدِهِ الْخَيْرُ ؕ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ؕ

پنجم کلمہ استغفار : اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ رَبِّيْ مِنْ كُلِّ ذَنْبٍ اَذْنَبْتُهٗ عَمَدًا اَوْ خَطَاً سِرًّا اَوْ عَلَانِيَةً وَّاَتُوْبُ اِلَيْهِ مِنَ الذَّنْبِ الَّذِيْ اَعْلَمُ وَ مِنَ الذَّنْبِ الَّذِيْ لَآ اَعْلَمُ اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ وَسَتَّارُ الْعُيُوْبِ وَغَفَّارُ الذُّنُوْبِ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ ؕ

ششم کلمہ رد کفر : اَللّٰهُمَّ اِنِّيْٓ اَعُوْذُبِكَ مِنْ اَنْ اُشْرِكَ بِكَ شَيْئًا وَّاَنَا اَعْلَمُ بِهٖ وَاَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لَآ اَعْلَمُ بِهٖ تُبْتُ عَنْهُ وَ تَبَرَّاْتُ مِنَ الْكُفْرِ وَالشِّرْكِ وَالْكِذْبِ وَالْغِيْبَةِ وَالْبِدْعَةِ وَ النَّمِيْمَةِ وَالْفَوَاحِشِ وَالْبُهْتَانِ وَالْمَعَاصِيْ كُلِّهَا وَاَسْلَمْتُ وَاَقُوْلُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ

آیات شفاء

وَيَشْفِ صُدُوْرَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِيْنَ ۝

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۝

يَخْرُجُ مِنْ بُطُوْنِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ فِيْهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ

وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ

وَاِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ ۝

قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هُدًى وَّشِفَآءٌ

فهرست مضامین

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡ کَفٰی وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی مَنۡ لَّا نَبِیَّ بَعۡدَہٗ ....اَمَّا بَعۡدُ.

پدے رساله کښې دمونځ ترجمه اوضروی مسائل او مختصر دعاګانے ذکر کول غواړو لیکن ټولونه مخکښې دعقیدےبیان کوؤځکه چه بنیادی شےعقیده ده. انسان چه هرڅومره عبادت وکړی لیکن که عقیده ئے خرابه وی نوبوعبادت ئےالله تعالیٰ ته قبول نه دے.

فصل اول

اوله عقیده:الله تعالیٰ پاک هم په ذات کښې یودے هم په صفاتوکښې یعنی هیڅوک ورسره شریک نشته.

(۲) الله تعالیٰ یودےچاته محتاج نه دےنه ترےڅوک پیدادی نه دچانه پیدادےنه ئےبی بی شته نه ئےاولادشته نه ئےمقابل شته.

(۳) دهغه ټول صفتونه همیشه دی اوهمیشه به وی.

(٤) دمخلوق دصفاتونه پاک دے.

(٥) ډیرپیغمبران الله تعالیٰ مخلوق ته دصحیح لارےښودلودپاره رالیږلی ووهغه ټول حق دی.

(٦) انبیاء دلوئے او وړو ګناهونونه پاک دی.

(٧) په پیغمبرانو کښې دبعض مرتبه دبعضونه اوچته ده.

(٨) زموږه دآخری نبیؐ درجه په ټولو انبیاؤ اوچته ده.

(٩) زموږ دپیغمبر محمدﷺنه روستوبل نبی دنیاته نه راځی هغه آخري نبی دے.

(١٠) انسان چه ډیرعبادت کوی ګناه نه کوی دنیا سره محبت نه ساتی او دپیغمبر پوره تابعداری کوی دغه انسان دالله تعالیٰ دوست او ولی دے.

(١١) داولیاؤکرامت حق دےانکار ترینه جهالت دے.

(١٢) ولی چه هرڅومره لوئے مرتبے واله وی خوبیاهم دنبی درجےته نشی رسیدلے.

(۱۳) که دالله تعالیٰ هرخومره دوست او ولی ولےنوی خوچه عقل هوش ئےپه ځائے وی نو دشریعت پابندی پےفرض ده.

(١٤) ولی ته هیڅ عبادت لکه مونځ وغیره هیچرے معاف کیدے نشی.

(١٥) ولی دپاره هیڅ گناه جائز کیدےنشی.

(١٦) څوك چه دشریعت خلاف ژوند تیره وی هغه دالله تعالیٰ ولی نه بلکه دالله تعالیٰ دشمن دے.

(١٧) ولی ته بعضے دراز خبرے کله په خوب کښ یاپه ویخه مغلومیږی دیته کشف او الهام وائی که دشرعے موافق خبره وی نوقبوله ده ورنه قبوله نه ده.

(١٨) نبی ﷺ په ویخه دجسم مبارك سره معراج ته تلےوو.

(١٩) چاچه نبی ﷺ لیدلےاو ایمان ئےپرے راوړے دے اوپه ایمان سره وفات شوےدے هغه ته صحابی وائی.

(٢٠) ولی چه هرخومره لوئی شی لیکن دیوادنیٰ صحابی مرتبے ته نشی رسیدلے.

(٢١) ایمان هله درست شی چه دالله تعالیٰ اودهغه د رسول ﷺ ټولے خبرے رشتونےاوگنړی.

(٢٢) دنبی ﷺ ټولےبیبانې او اولاد دتعظیم لائق دی.

(٢٣) ټول صحابه معیار حق دی.

(٢٤) دچانه دغیبو ټپوسونه کول اویقین پرے کول کفردےلکه زمونږ دخنقونه چه څه ورك شی نو پیران اوکاهنانوته ځی اودهغی نه ئے ټپوسونه کوی پدے انسان کافر کیږی.

(٢٥) دغیبو حال بغیر دالله تعالیٰ نه بل چاته نه دے معلوم.

(٢٦) مړی ته ددعاء کولو اوپه صحیح طریقه خیرات کولو ثواب رسیږی اودیر فائدے ورته میلاویږی.

(٢٧) جنت اوجهنم حق دی.

(۲۸) دالله تعالیٰ اختیاردےکه په وړه گناه سزاء ورکوی یاغټه گناه په خپله مهربانئ معاف کوی اودقبرعذاب دکافراوگناهگاردپاره حق دے.

(۲۹) شرك اوکفرالله تعالیٰ هیڅ چرےنه معاف کوی ،شرك دیته وائی چه الله تعالیٰ سره بل څوك په ذات یاصفاتوکښ شریك کړی،چه څنگه اولاد الله تعالیٰ ورکوی داسی ئےبابا هم ورکوی چه څنگه مرض الله تعالیٰ ښه کوی دغسی ئےبابا هم ښه کوی چه څنگه غریبی مالداری الله تعالیٰ راولی داسی ئے بابا راولی دیته شرك وائی.

(۳۰) په قیامت کښ دالله تعالیٰ لیدل حق دی.

(۳۱) په دنیاکښ څوك الله تعالیٰ نشی لیدلے اونه چالیدلےدے.

(دکفر اوشرك بیان)

(۱) کفرخوښول کفردے.

(۲) دکفر خبرے ښے گڼل کفردے.

(۳) په بل چادکفر خبرے کول کفردے.

(٤) په څه وجه پخپل ایمان خپیمانه کیدل چه که مسلمان نه وےنو فلانئ خبره به راته حاصله شوےوے.

(٥) داولاد د مرگ په وخت گډے وډے خبرےکول چه الله تعالیٰ صرف زماخوی نه تکړه وؤ بل څوك نه وؤ چه زماځوی ئے وژلو.

(٦) دالله تعالیٰ پشان ظلم څوك نه کوی ده خوزماخوی مړکړو.

(۷) دالله تعالیٰ او رسولﷺ دڅه حکم نه انکار کول.

(۸) دیونبی یافرشتےسپکاوےکول.

(۹) عیب پرےلگول.

(۱۰) دیوپیر یابزرگ متعلق داعقیده ساتل چه زمادهرڅه نه خبردے.

(۱۱) دنجومی یاپنډت یاچه په چاپیریان راغلی وی دهغه نه دغیبو دخبرو تپوسونه کول.

(۱۲) په دوئی باندے فالونه کتل اوهغه رشتیا گنړل.

(۱۳) دبزرگ په خبره فال نیول اویقین پرے کول.

(١٤) بزرگ یانبی یافرشتوته دلری نه آواز کول چه یارسول الله ﷺ،یاعلیؓ،یاحسینؓ،یابابا اوپدے یقین کول چه دازما آواز اوری.

(۱۵) دالله تعالیٰ نه سِوا بل څوك مالك دنفعے اونقصان گنړل.

(١٦) دمخلوق نه خپل مرادونه غوښتل.بغیر دظاهری اسبابونه.

(۱۷) رزق یا اولاد ترینه غوښتل.

(۱۸) دچاپه نوم روژه نیول.

(۱۹) چاته سجده کول.

(۲۰) بل چاته سرخکته کول.

(۲۱) دچاپه نوم څناور څاورے منل سِوا دالله تعالیٰ نه ،

(۲۲) دچاپه نوم ذبحه کول.

(۲۳) دیونیك ولی بزرگ په قبر ذبحه کول.

(٢٤) دچاپه نوم نذر منل حلوه چرگ وغیره منل.

(۲۵) دچادقبرنه طواف کول.

(٢٦) دقبرونو جنډے کاڼری وغیره دشفاء دپاره په ځان راښکل.

(۲۷) مقبروته گډ،چیلے بوتلل اوهغه ته ئے حواله کول.

(۲۸) دبچی دپاتے کیدلو دپاره توتکے کول.

(۲۹) دیوخائے دکعبے برابر تعظیم کول.

(۳۰) دچاپه نوم دبچی غوږ ،پوزه سوری کول.

(۳۱) په غوږنو کنبې ورته بالئ وغیره اچول چه ژوندے پاتے شی.

(۳۲) غاړے ته مزی دشفاء دپاره اچول.

(۳۳) دعالم کاروبار دستورو په تاثیر سره گنړل.

(۳٤) شرکیه نومونه ایښودل مثلاً عبدالنبی،عَبدالعلی، عبدالرسول،علی بخش، حسین بخش، داتا گنج بخش، وغیره.

(۳۵) دبزرګ دنوم وظیفه کول لکه یاشیخ عبدالقادر شیئاً لله).

(۳٦) داسی ویل که دالله تعالیٰ او رسول الله ﷺ خوښه شی نوداکاربه داسې وشی.

(۳۷) دالله تعالیٰ نه سِوا دبل چاپه نوم قسم کول لکه دنیکه په نوم قسم، په کعبه،په قبله،په کرم دکان،په کرم نغری،دپلار په سر.

(۳۸) دجاندار شی تصویر یابزرګ تصویر دبرکت دپاره ساتل وغیره.

(دغلط رسمونو اوبدعاتوبیان)

(۱) په قبرونو ګلونه اچول بدعت اوګناه ده.

(۲) په قبرونو میلے کول. (۳) ډیوے پے بلول. (٤) څادرونه پے خورول.

(۵) پاخه قبرونه جوړول. (٦) قبرونه ښکلول.

(۷) کانړی خاورے ئےپه ځان مږل. (۸) طواف اوسجدے ورته کول.

(۹) قبرونوطرفته مونځ کول.(۱۰) میوے،پیسے،حلوه،وغیره پے ایښودل.

(۱۱) جنډے وغیره اودرول .(۱۲) جنډو ته ئے سلام کول.

(۱۳) دمحرم په میاشته کښې خاوند سره نه یوځائے کیدل.

(۱٤) نکریزے نه لګول.(۱۵) زینت نه کول.(۱٦) نوی کپړه نه اغوستل.

(۱۷) دمړی په اوله ورځ،یاپه دریمه،څلویښتمه خیرات کول اوضروری ګنړل .(۱۸) دمړی کلیزه کول.

(۱۹) په کوژدن،سنتونو کښې دهندوانو رسمونه کول.

(۲۰) داصیلو زنانوو خرڅول.(۲۱) دسلام دپاره خکته کیدل.

(۲۲) دلیور،دترور،خوی،دتره ځوی، دماماځوی،په مخکښے بے احتیاطه ګرځیدل، یادبل نامحرم په مخکښے بےپردے ګرځیدل.

(۲۳) دکودرنه منکی راوړلو سره سندرے ویل.

(۲٤) ډمان وغیره ګډول او ورته کتل اوخوشحالیدل اوانعام ورکول.

(۲۵) په نسب فخرکول. (۲٦) بزرګ ته دځان نسبت دنجات دپاره کول.

(۲۷) جائزه پیشه ذلیله ګنړل. (۲۷) دحدنه زیات دچاتعریفونه کول.

(۲۹) د واده هلك په پالنګ خیژول.

(۳۰) هغه ته دشریعت خلاف جامے اچول .(۳۱) سهرے اچول.

(۳۲) په واده کښ هلکانو ته نکریز لګول. (۳۳) ډزے کول.

(۳٤) فضول ارائیشونه کول.(۳۵) دواده هلك دښځو مینځ ته دننه کول.

(۳٦) دځوانوجینکو وغیره ورته مخامخ راتلل اوتوقےمسخرےورسره کول.

(۳۷) په غم کښ په چغو جړل.(۳۸) مخ اوسینه وهل.

(۳۹) تکئ ویل اوژړل. (٤۰) دمړی داستعمال لوښی ماتول.

(٤۱) دمړی تولے جامےوینځل.

(٤۲) په مخصوص تاریخونو بیاغم تازه کول.(٤۳) عرسونه کول.

(٤٤) په محرم کښ تورے جامے اغوستل اوځان وهل.

(٤۵) په قبرونو اوبه اچول.

(٤٦) دسفرنه چه راشی نوغیر محرم سړی ته غاړه ورکول.

(٤۷) دصفرے میاشته سپره ګنړل.(٤۸) په دیارلسمه صفره ګونګری پخول.

(٤۹) په آخری چارشنبه چوری کول.

(۵۰) دمړی دتختے حلوه پخول.

(۵۱) ماشومانو ته ګونګری یانور دشرنګ شرونګ ځیزونه اچول او داسے نور ډیر رسمونه دےچه مسلمانانو ته ترینه ځان ساتل پکاردی.

الله تعالیٰ دےمونږته دعمل کولو توفیق راکړی.

فصل ثانی

ایمان مفصّل

اٰمَنْتُ بِاللهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ

ماپه الله تعالیٰ ایمان راوړے دے اوپه ملائکودهغه اوپه کتابونو دهغه

وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْقَدْرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ

اوپه رسولانو دهغه. اوپه ورځ داخرت. اوپدے خبره چه مقرر کیدل دخیر اوشر

مِنَ اللهِ تَعَالٰى وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ

دالله تعالیٰ دطرفه دی اوایمان مےراوړے په دوباره جوندی کیدو پس دمرګ نه

ایمان مجمل

اٰمَنْتُ بِاللهِ كَمَا هُوَ بِاَسْمَائِهٖ

ماپه الله تعالیٰ ایمان راوړے دے لکه څرنګه چه دده شان دے په نومو نودده

وَصِفَاتِهٖ قَبِلْتُ جَمِيْعَ اَحْكَامِهٖ

اوپه صفتونو دده قبول کړی مے دی ټول حکمونه دهغه

اِقْرَارٌ بِاللِّسَانِ وَتَصْدِيْقٌ بِالْقَلْبِ

اقرار مے دےپه ژبه اوباورمے دےپه زړه

....

دمونځ ترجمه

سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ

پاك ئےته دهرعیب اوکمی نه اے الله تعالیٰ ،اوصفتونه دخدائتوب ستادپاره دی.

وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ

اوبرکت واله دے نوم ستا او اوچته ده لوئ ستا

وَلَا اِلٰهَ غَيْرُكَ اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ

اونشته دےکارسازسیوا ستانه، پناه نیسم په الله تعالیٰ پورے دشیطان رټلی شوی نه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

په امداد دنوم دالله تعالیٰ چه عام اوخاص مهربان دےشروع کوم

اَلْحَمْدُلِلّٰه

دخدائتوب مناسب ټول صفتونه خاص الله تعالیٰ دپاره دی.

رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ الرَّحْمٰنِ

چه پالونکے دټول مخلوق دے. چه په هرڅه اوپه هرچا مهربان دےپه دنيا کښې

الرَّحِيْمِ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ

اوپه مؤمنانو خاص مهربان دے په اخرت کښې واکدار دےدورځ دقيامت

اِيَّاكَ نَعْبُدُ

خاص تاته عاجزی کوو،بل چاته ئې نه کوؤ،

وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ

اوخاص ستانه امداد غواړو،بل چانه ئې نه غواړو،

اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ

وښايه مونږته لارسمه، لارد. ده کسانو چه پيرزو کړے تاپه هغوئ باندے

غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ

چه نه دے شوے غضب پدوئ، اونه دی ګمراه شوی

آمِيْن

(ياالله دادعاء زمونږ قبوله کړه)

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ

او وايه اے پيغمبره چه دا الله تعالیٰ يخی يودے.

اَللّٰهُ الصَّمَدُ لَمْ يَلِدْ

الله تعالیٰ چاته محتاج نه دے نه دده نه څوك پيدا دی.

وَلَمْ يُوْلَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ

اونه داد چانه پيدا دے. اونه شته دده برابر هيڅ څوك.

اَللّٰهُ اَكْبَرُ

الله تعالیٰ ډیر لوئ دے.

سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمُ — پاك دےرب ځما چه دلوئ شان واله دے.

سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَه — اوری الله پاك دهغه چاچه خوك ئې صفت کوی.

رَبَّنَالَكَ الْحَمْدُ — اےزمونږربه تاله صفتونه دی.

سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى — پاك دے ځمارب چه داوچت شان واله دے

اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰه — ټول دژبے عبادتونه خاص الله تعالیٰ له دی.

وَالصَّلَوٰتُ — اوبدنی عبادتونه هم الله له دي

وَالطَّيِّبٰتُ — اومالی عبادتونه هم الله تعالیٰ له دی

اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ — سلامتیادِوی په تاباندے اےنبی ﷺ

وَرَحْمَتُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا

اورحمتونه دالله تعالیٰ اوبرکتونه دده دِ وی په تاباندے سلامتیادِ وی په مونږ

وَعَلٰى عِبَادِاللهِ الصَّالِحِيْنَ — اوپه بنده گانودالله تعالیٰ چه نیکان دی

اَشْهَدُاَنْ لَااِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ

گواهی کوم ددے خبرے چه نشته دےحقدار دبندہ گئ سِوا دالله تعالیٰ نهاوگواهی کوم چه یقینًا

مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ — محمد ﷺ بنده دالله دےاورسول دالله دے.

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ

اے الله رحمت راولیږه په محمد ﷺ اوپه تابعدارو دمحمد ﷺ

كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ — لکه څرنګ چه دِرحمت رالیږلے ووپه ابراهیم علیه السلام باندے

وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ

اوپه تابعدارو دابراهیمؑ باندے یقینًا چه ستاصفت شویدے اولوئې مرتبے واله ئے

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ — اے الله برکت راولیږه په محمد ﷺ

وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ — اوپه تابعدارو دمحمد ﷺ

كَمَا بَارَكْتَ — لکه څرنګ چه دِرحمت رالیږلے وو

عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ　　　　　　　　　پہ ابراهيم عليه السلام باندے

وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ

اوپه تابعدارو دابراهيمؑ باندے يقينًا چه ستاصفت شويدے اولوئي شان واله ئے

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا　اے الله زمونږ ربه　اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً　راکړے مونږ ته په دنیاکے هرښه شے

وَفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً　　　اوپه اخرت کےهرښه شے

وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ　　　اوبچ وساته مونږ دعذاب د اورنه

اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ　اے الله مونږ امداد غواړو ستانه　وَنَسْتَغْفِرُكَ　اوبښنه غواړو ستانه

وَنُؤْمِنُ بِكَ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ　　　او ایمان مودے په تااوخان سپارو په تا

وَنُثْنِيْ عَلَيْكَ الْخَيْرَ　　　اوصفتونه بیانو ستانبه

وَنَشْكُرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ وَنَخْلَعُ　اوشکر اداء کوو ستااوناشکری نه کووستااوجدا کوو او اوباسومونږ

وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ　　　اوپریدو مونږ څوك چه ستا نافرمانی کوی

اَللّٰهُمَّ اِيَّاكَ نَعْبُدُ　　　اے الله خاص ستابنده گی کوو

وَلَكَ نُصَلِّيْ وَنَسْجُدُ　　　اوخاص تاله مونځ کوواوسجده کوو

وَاِلَيْكَ نَسْعٰى　اوستاطرفته کوشش کوو　وَنَحْفِدُ　اوخدمت کوستا ددین

وَنَرْجُوْ رَحْمَتَكَ وَنَخْشٰى عَذَابَكَ　اواميدلرو درحمت ستااويريږو ستا دعذاب نه

اِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحَقٌ　يقينًا عذاب ستاكفاروته رسیدونکے دے

اگرچه دامشهور دُعائے قنوت په هم دےالفاظوپه احاديثو کښې نشته.

لهٰذا اَللّٰهُمَّ اهْدِنِيْ فِيْمَنْ هَدَيْتَ والا دعاء دے وائي.

غسل کښې دری(۳) فرض دی

(۱)خولےته اوبه اچول.　　(۲)پوزےته اوبه اچول.

(۳)ټول بدن لمدول چه يوويښته وچ پاتےنشی.

اوپه نورالايضاح کښې ذکرکړی چه په غسل کښې يولس څيزونه فرض دی تفصيل ئےهلته اوګورئ.

دغسل سنّت مشهور پنځه(٥)دی

(١)لاس مړوندونوپورې وينځل. (٢)استنجاء كول.

(٣)دناپاکی لرےکولونيت کول. (٤)دغسل نه مخکښې اودس کول.

تمام بدن باندے درےځل اوبه اچول.

غيرمشهور دادی

(٦)دبدن نه گندگی لرےکول. (٧)بسم الله ويل.

(٨)په غسل کښې دسرنه شروع کول. (٩)مسلسل پےدرپےغسل کول.

(١٠) دسروينځلونه بعدښئ اوګه وينځل.

(١١) اوکه دغسلو ځائےکښې اوبه جمع کيږی نوخپے په اودس کښې نه وينځل بلکه دغسلونه بعدوينځل.

غسل کښې ددے خبرو احتياط کول ضروری دی

(١) ناخن پالش سره غسل نه وځی.

(٢) غسل به داسےځائے کښې کوي چه بل انسان ته نه ښکاري.

(٣) چه په بدن ئے جامه نوی نوچاسره به خبرے نه کوی.

(٤) په اوچت ځائے کيناستل چه بدن ته ئے گنده دارے نه کيږی.

(٥) که په لاس کښې کوتمه ياپه غوږ کښې والئ وی ياپوزه کښې چارګل وی ياپه لاس کښې بنګړی وی هغه به اوخوزوی چه چرته هغه ځائےوچ پاتے نشی.

(٦) دنوم اوغوږونو سره به زيات خيال ساتی چه وچ پاتےنشی.

په اودس کښې څلور(٤) فرض دی

(١)مخ دتندی دويښتو نه دزنےلاندے پورےاوديو غوږ نه تربله پورے وينځل.

(٢) دواړه لاسونه دڅنګلوسره وينځل.

(٣) دڅلورمے حصےدسرمسح کول.

(٤) دواړه خپے دګيټوسره وينځل.

په اودس کښې دیارلس (۱۳)سنت دی

په نورالایضاح کښې(۱۸) سنت ذکر کړی اومشهور دیارلس دی.

(۱) نیت کول. (۲) بسم الله ویل.

(۳) او دواړه لاسونه مړوندنوپورې درے ځل وینځل.

(٤) مسواك وهل. (٥) خولے ته اوبه اچول.

(٦) دغښې پوزے ته اوبه اچول. (۷) دګیرے خلالول.

(۸) دلاسونو پښو ګوتے خلالول. (۹) هراندام درے درے ځل وینځل.

(۱۰) دټول سرمسح کول. (۱۱) دغوږونو مسح کول

(۱۲)پےدرپے،مسلسل اودس کول. (۱۳) په ترتیب سره اودس کول.

په اودس کښې مستحب پنځه(٥)دی

نورالایضاح کښې ئې څوارلس ذکر کړی لیکن مونږه صرف مشهور بیانوو.

(۱) دښی طرف نه شروع کول.

(۲) دځټ مسحه ده اودمرئ مسحه بدعت ده لکه بعض خلق ئے کوی.

(۳) په اودس کښې بغیر ضرورته دچانه مدد نه غوستل.

(٤) دقبلے طرف ته مخ کول. (٥) په پاك اوچوت ځائے کیناستل.

اودس په اته(۸)څیزونو ماتیږی

(۱) د دواړو لارو نه څه وتل ،یاتشے ،ډکے متیازے کول.

(۲) دهوا وتل (۳) دبدن نه وینه یازوه وتل.

(٤) په ډکه خوله قے(اولټئ) کول.

(٥) په تکیه سره یاپه ملاسته خوب کول.

(٦) بےهوشی. (۷) لیونتوب.

(۸) په مانځه کښې په قهقهه خاندل.

نورالایضاح کښې نواقض دولس ذکر دی.

په اودس کښې خلور(٤) مکروه دي

(۱) په ناپاک ځائے اودس کول.
(۲) په ښی لاس پوزه صفاکول. (۳) دُنیوی خبری کول.
(٤) دسنتو خلاف اودس کول،غیرے مشهور نورهم شته لکه .
(٥) اودس کښې اسراف کل (٦) په مخ باندے په زوره اوبه ویشتل.
(۷) دضرورت نه کمے اوبه استعمالول .(۸) درے ځل دسر مسحه کول.

تیمم کښې درے(۳)فرض دی

(۱) نیت کول. (۲) دوه ضربونه یعنی دوه ځل لاس په زمکه وهل .
(۳) یوځل دمخ دپاره یوځل دلاسونو دپاره دځنګلوسره.
اوپه ځنو کتابونو کښې دتیمم اته شرطونه ذکردی.

دمونځ دیارلس(۱۳) فرض

اوه(۷) فرائض دمونځ نه بهردی شپږ(٦) داخل دی.

اوه(۷) بهر دادی.

(۱) بدن پاك. (۲) کپړے پاکې. (۳) ځائے پاك. (٤) عورت پټول.
دسړی عورت دنامه نه ترزنګه نونوپورے دے،اودزنانه ټول بدن عورت دے،
صرف مانځه کښې مخ اودګټو پورے لاسونه اودګټو پورے خپے عورت نه دی.
(٥) وخت پیژندل. (٦) قبلےته ته مخ کول. (۷) په زړه کښی دمانځه نیت کول.

(اوشپږ(٦) داخل دادی)

(۱) تکبیر تحریمه. (۲) قیام یعنې ودریدل. (۳) قرأت یعنې قرآن ویل.
(٤) رُکوع کول. (٥) دوه سجدے کول. (٦) په اخیره کښې دتشهد په مقدار
کیناستل،اوپه نور الایضاح کښې دمونځ دصحت لپاره اویشت(۲۷) شرطونه ذکر کړی
دی لیکن دےمختصر رساله کښې دتفصیل ګنجائش نشته.

مونځ کښې خوارلس(۱٤) واجب دي

(۱) په فرض مونځ کښې اولني دوه رکعتونه دقرأت لپاره خاص کول.

(۲) دفرض مونځ د دریم او څلورم رکعت نه علاوه په ټولو مونځونو کښې فاتحه ویل.
(۳) دسورت فاتحې سره یو سورت یوځائے کول.
(٤) فاتحه دسورت نه مخکښې ویل.
(٥) په ترتیب سره مونځ کول.یعنې اول قرأت بیارکوع بیاسجده.
(٦) قومه واجب ده. (۷) جلسه واجب ده.
(۸) تعدیل ارکان یعنې هر رکن په قلاره اداکول. (۹) اوله قعده واجب ده.
(۱۰) په دواړو قعدوکښې تشهد ویل واجب دي.
(۱۱) امام دپاره جهری مونځ کښې په زوره قرأت اوپه سرّی مونځونو کښې پټ قرأت ویل واجب دي. (۱۲) په لفظ دسلام سره دمانځه نه وتل.
(۱۳) په وترو کښې دعائے قنوت اودهغے دپاره الله اکبرویل واجب دی.
(١٤) داخترونو په مونځ کښې زیاتی شپږ تکبیرونه ویل.
اوپه نورالایضاح کښې دمونځ اتلس واجبات ذکر دی: اومسائل نمازکښې (٢٦) ذکر دي. (فانظر هناك)

په مونځ کښې یوپنځوس(٥١)سنت دی

علامه شامی(۲۳) ذکر کړی اونور الایضاح واله (٥١) اومسائل نماز کښې (٤٢) ذکر شوی دی لیکن مونږ دلته مشهور ذکر کوو چه یویشت (۲۱) دي.
(۱) دتکبیرِ تحریمه دپاره لاس غوږونوته اوچتول .
(۲) دلاسونو دګوتو سرونه قبلے ته ساتل.
(۳) دتکبیر ویلو په وخت کښې سرنه ډیرخکته کول نه ډیر پورته کول.
(٤) دمام دپاره تکبیر تحریمه اوډیو رکن نه بل ته دتلو په وخت کښې په اوچت آواز سره اللهُ اکبر ویل.
(٥) ښے لاس په ګس لاس په نامه کینږودل ،اوزنانه به لاس په سینه ګدی.
(٦) ثناء ویل. (۷) اعوذ بالله ویل. (۸) بسم الله ویل. (۹) آمین ویل.
(۱۰) او داخلور واړه پټ ویل.

(۱۱) دفرض مونځونو په دریم اوڅلورم رکعت کښې سورت فاتحه ویل.

(۱۲) دسنتو موافق قرأت کول.

(۱۳) په رکوع اوسجده کښې کم نه کم درې ځل تسبیحات ویل.

(۱٤) په رکوع کښې سر اوملا برابر ساتل اوزنګه نونه په کولاؤ ګوتو سره نیول.

(۱۵) په قومه کښې امام دپاره سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَه اومقتدی دپاره رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ ویل

،اوځانله مونځ کونکی لره دواړه ویل.

(۱٦) سجدے ته چه ځې اول زنګه نونه لګول بیالاس بیاپوزه بیاتندے،او واپس ددے په

عکس راپاڅیدل.

(۱۷) په جلسه اوقعده کښې کڅه خپه څملول اوپه هغے کیناستل اوښی خپه ودرول چه

دګوتو سرونه ئے قبلےته راشی.

(۱۸) په تشهد کښې ده اشهد ان لااله الا الله ویلوسره کرمه ګوته اوچتول.

(۱۹) اخیره قعده کښې دتشهد نه بعد درود شریف ویل.

(۲۰) د درود شریف نه بعد دعاء ویل.

(۲۱) اول ښی طرفته بیاچپ،طرفته سلام ګرځول.

مونځ کښې پنځه(۵) مستحب دی

(۱) دتکبیر تحریمه په وخت کښې لاسونه دنستونړونه راوستل.

(۲) په رکوع اوسجده کښې د درے ځلونه زیات تسبیحات ویل.

(۳) دقیام په حالت کښې دسجدے ځائے ته اودرکوع په حالت کښې دقدمونو غټوګوتو

ته اوپه سجده کښې پوزے ته اوپه قعده کښې غیږے ته کتل او دسلام په وخت کښې

اوګوته کتل.

(٤) تږخے دفعه کول.

(۵) ارګمے یااسویلے (جمائی) دفعه کول اوکه دفعه نشی نو دقیام په حالت کښې ورته

ښی لاس شا اوباقی حالاتوکښې دګځ لاس شاښول.

اومسائل نمازکښې اته ذکر دی.

مونځ په اتلسو(۱۸) څیزونو ماتیږي

په نور الایضاح کښې اته شپیته(٦٨)ذکر کړي لیکن مشهور ذکر کول غواړو.

(۱) په مانځه کښې خبرې کول که قصداً وي که په هیره لږې وي اوکه ډیرے.

(۲) سلام کول.

(۳) دسلام جواب یادپرنجي جواب په یَرْحَمُكَ اللهُ سره یاچه څوك دمونځ نه بهر وي دهغه په دعاء آمین ویل.

(٤) دغم په خبر اِنَّالِلّٰهِ وَاِنَّآاِلَیْهِ رَاجِعُوْن ویل اودخوشحالۍ په خبره الحمدلله ویل یادتعجب په خبره سبحان الله ویل.

(٥) دبیمارۍ یاتکلیف دوجې آه ،اویا اُف کول.

(٦) دخپل امام نه سیوا بل چاته فتح ورکول.

(۷) په مونځ کښې قرآن ته کتل او قرأت کول.

(۸) په قرآن لوستلو کښې سخته غلطی کول.

(۹) عمل کثیر کول،یعنې داسے کارکول چه دواړه لاس پکښې استعمال شي یادمونځ نه بهرسړےپرے گمان وکړي چه داسړے مونځ نه کوي.

(۱۰) خوراك كول كه قصدًا وي كه په هیره.

(۱۱) د دوه صفونو په مقدار تلل.

(۱۲) دقبلے نه بغیر دعذر نه سینه اړول.

(۱۳) په ناپاکه ځائے سجده کول

(۱٤) دیورکن په مقدار عورت ښکاره کیدل.

(۱٥) داسې دعاء کول لکه دانسان نه مثلاً یاالله مالره یولاکھ روپۍ راکړه.

(۱٦) دتکلیف دوجے نه داسے ژړل چه دخولے نه حرف ظاهر شي.

(۱۷) دبالغ انسان په مانځه کښې په قهقهه خندل.

(۱۸) دمام نه مخکښې کیدل.

(۱۹) ماشوم له په مونځ کښې تے رودل.

په مانځه کښې نهه يش(۲۹) مکروهات دي

(۱) سدل،يعنې په سرباندې کپړه رومال اچول چه دواړه طرفونه ئې اويزان وي. ياپه اوګو څادر اچول چه طرفونه ئے اويزان وي.

(۲) دخاورے نه بچکيدلو دپاره جامے راغونډول.

(۳) دبدن ياجامو سره لوبے کول.

(٤) داسے جاموکښې مونځ کول چه سړے پکښې عام مجلس ته نشي تللے.

(٥) په خوله کښې روپئ وغيره نيول.

(٦) سرتورسرد سستئ نه مونځ کول.

(۷) تشوپادکو متيازو چه انسان ته زور ورکړےوی پداسےحال کښې مونځ کول.

(۸) دسرويښته په سردپاسه راغونډول يعنې چه دګوف شکل ترينه جوړشي.

(۹) دسجدے دځائے نه شکې لرے کول ليکن که سجده کول مشکله وه بيائے يوځل دوه ځلو سره لرے کولے شي.

(۱۰) دګوتو نه تقے وستل يادلاسونو ګوتے يوبل کښې اچول.

(۱۱) په تشو لاس ايښودل.

(۱۲) دقبلے نه مخ اړول يايو طرف اوبل طرف ته کتل.

(۱۳) هغه چاطرفته مونځ کول چه مخ ئےمونځ کونکی ته وی.

(۱٤) دسړی دپاره په سجده کښې څنګلےپه زمکه غوړول.

(۱٥) دلاس ياسر په اشاره دسلام جواب ورکول.

(۱٦) دسپې پښان په مانځه کښې کيناستل.

(۱۷) بلا عُذر څلور ګوتے کيناستل.يعنې پرلت وهل.

(۱۸) قصدًا ارګمے يااسويلے کول،اوچه دبندولو قدرت ئےوی اوبيائے هم بندنه کړی.

(۱۹) سترګےپټول ليکن که دتوجه جوړيدلودپاره ئے بندی کړے نوبيا مکروه ندي.

(۲۰) دامام په محراب کښې ټول دننه ودريدل ليکن که قدمونه ئےبهر ووبيا مکروه ندي.

(۲۱) دامام زانله دمقتديانونه يولاس اوچت ودريدل.

(۲۲) دصف نه روستو ځانله ودريدل سره ددے چه مخکښې صف کښې ځائے خالي وي.

(۲۳) چه روح پکښې وی داسې تصویر واله جامو سره مونځ مکروه دے.

(۲٤) آیاتونه تسبیحات په گوتو شمارل.

(۲۵) پداسے ځائے کښې مونځ کول چه مخامخ یا ښی کس طرفته یاد سجدے په ځائے تصویر وی.

(۲٦) دځان نه څادر یا کپړه داسې تاوول چه په جلتئ کښې ترینه لاس بهر نشی راوستلے.

(۲۷) په مانځه کښې ستومانی وستل.(۲۸) دپټکي په ول سجده کول.

(۲۹) دسنتو نه خلاف په مانځه کښې څه کارکول.

دایمان فرائض

دایمان لفظی معنٰی ده یقین او تصدیق اودشریعت په اصطلاح کښې ایمان دیته وائې چه انسان په لاندینو شپږو څیزونو دژبے اقرار اوکړی اوپه زړه کښې یقین وکړی.

[۱] په الله ایمان[۲] په فرشتو ایمان[۳] په اسمانی کتابونو ایمان[٤]په رسولانو ایمان[۵] په آخرت ایمان[٦] په تقدیر ایمان چه خیر اوشر دالله تعالیٰ دطرفه دے.

داسلام فرائض

دبعض علماؤ په نزد پنځه دی اودبعض په نزد شپږ دی اودیته ارکان هم وائې.

[۱] کلمه طیبه [۲] مونځ[۳] روژه[٤] حج[۵] زکوة[٦] به و ورسره جهاد ښودلے دے.

دکلمے فرائض

په کلمه کښې پنځه فرض دی:[۱] کلمه ویل[۲]الفاظ ئےصحیح کول[۳]دکلمے معنٰی یادول[٤]دکلمے یقین زړه ته کوزول[۵] بل ته ددے کلمے دعوت ورکول.

بعضو عالمانو ورسره دوه فرض نورهم ښودلی دی[٦] پدے کلمه عمل کول[۷] دکلمے په تشریح او وضاحت باندے زان پوهه کول.

دحج فرائض

په حج کښې درے فرض دی.

[۱] احرام یعنې دحج نیت کول اوتلبیه ویل.

[۲] وقوف عرفات په عرفه ودریدل اګرچه دلږ ساعت دپاره وی لیکن دنهمی ذی الحجی دزوال نه بعد دلسمی ذی الحجی دصبا صادق پورې پدےوخت کښې به ودریدل وی.

[۳] طواف زیارت کوم طواف چه دوقوف عرفات نه بعد وی.

په حج کښې شپږ واجبات دی

[۱] په مزدلفه ودریدل.[۲] دصفامروه مینځ کښې سعی کول.[۳] شیطانان وشتل [٤] دحاجی قارن اومتمتع دپاره قربانی کول.[٥] دسرخرول یاکمول.[٦] دافاقی یعنې دمیقات نه بهر وسیدونکی دپاره طوافِ وداع کول.

دجنازے په مونځ کښې دوه فرض دی

(۱) څلور ځل الله اکبر ویل چه هرتکبیر دیورکعت قائم مقام دے. (۲) قیام یعنې څنګه چه په فرض او واجب مونځونو کښې قیام فرض دےداسے په جنازه کښې هم فرض دے.

په جنازه کښې درے سنت دی

[۱] دالله تعالی صفتونه لکه ثناء شوه.[۲] په نبی علیه السلام درود [۳] دمړی دپاره دعاء.

په نکاح کښې یوفرض دے

یعنې یورکن دےپکښې :ایجاب اوقبول :

په نکاح کښې درے شرطونه دی

[۱] ایمان شرط دے [۲] دچاسره چه نکاح کوے هغه به غیر محرمه وی[۳] دوه ګواهان شرط دی.

په روژه کښې درے فرض دی

[۱] دصبا صادق نه دنمر پریوتلو پورے هیڅ نه خوړل [۲] هیڅ نه سکل[۳] جماع همبستری نه کول.

په عمره کښې درے فرض دی

[۱] احرام تړل (نیت اوتلبیه سره) [۲] دبیت الله طواف کول[۳] دصفامروه سعی کول.

قربانی په چاواجب ده

چه په چاکښې شپږشرطونه موجود وی.

[۱] مسلمان کیدل[۲] مقیم په،مسافر واجب نه ده[۳] آزاد په غلام قربانی نشته [٤] بالغ،په نابالغ واجب نه ده [٥] عاقل،په لیونی واجب نه ده[٦] صاحبِ نصاب،چه څوك صاحبِ نصاب نوی په هغی قربانی واجب نه ده.

مکروه وختونه

(۱) دنمردختلو وخت. (۲) دنمر دپریوتلووخت.

(۳) دزوال رخت. (٤) دمازیگر مونځ نه بعد نفل کول.

(٥) دصباصادق نه دسحر دمونځ پورې نفل کول.

(٦) داختر په ورځ په عید گاه کښې نفل کول.

(۷) داختر مونځ چه نه وی شوے نوپه جماعت یاکور کښې هم نفل مکروه دي.

(۹) دنیمے شپےنه روستودماخستن مونځ کول.

(۱۰) ستوري چه کنړشي دهغې نه روستو دماښام مونځ کول،چه جمع ودریږی سِوا دسحر دجمعے نه که رکعت ترینه نه فوت کیږی بل مونځ کول

(۱۱) دمازیگر مونځ دنمر زیړیدونه بعدکول.

(۱۲) کله چه امام خطبے ته ودریږی.

(۱۳) په عرفه باندے دمازیگر اوماسپخین په مونځ کښې بل مونځ کول.

(١٤) په مزدلفه کښې دماښام اوماسخوتن په مونځ کښې بل مونځ کول،

(۱٥) چه انسان ډیر وګے وی اوطعام حاضروی.

دغه شان نور هم ډیر ځایونه دي چه داختصار په غرض دلته نشي بیانیدلے.

مکروه مقامات

یعني پدے مقاماتوکښې مونځ مکروه دے.

(۱) په قبرستان کښې مونځ کول.

(۲) شارع عام، یعني غټه لاره کښې مونځ کول.

(۳) دګندګئ داچولو ځائے کښې مونځ کول.

(٤) دځناورو دتړلو ځائے کښې مونځ کول.
(٥) غسل خانه کښې مونځ کول. (٦) بيت الخلاء کښې مونځ کول.
(٧) قصاب خانه کښې مونځ کول. (٨) غصب شوی زمکه باندے مونځ کول.

صلوٰة التسبيح

په نفل مونځونوکښې ددے مانځه ډير فضيلت دےلکه حديث کښې راځی ابن عباسؓ فرمائی چه نبیﷺ يوځل عباسؓ ته ويل اےعباسه،اےځماتره آياځه تاته يوه عطيه ډرکړم، يوبخشش اوکړم، يوځيز اوښايم،تادلسو ځيزونو مالك جوړ کړم کله چه ته داکار کوے نو الله تعالیٰ به ستاټول ګناهونه روميبنی روستنی ،زاړه نوی،چه په غلطئ دکړی وی ياقصدًا، واړه وی يالوئ،په پټه دِ کړی وی يابښکاره ټول به معاف کړی،هغه کار دادے چه څلور رکعته نفل(صلوٰة التسبيح) اوکړه ،اوهررکعت کښې کله چه اَلۡحَمۡدُ،اوسورت اووائے نو رکوع نه مخکښې سُبۡحَانَ اللهِ ،وَالۡحَمۡدُلِلّٰهِ ،وَلَاۤاِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكۡبَرُ .
پنځلس وارے وو وايه بياچه رکوع اوکړے نولس وارے هغے کښې وو وايه ،بياچه درکوع نه ودريږے نولس وارے وو وايه بياپه سجده کښې لس وارے بياپه جلسه کښې چه کينےلس وارے اووايه بياپه دويمه سجده کښې اووايه بياچه دويم رکعت ته پاځيږے نوالله اکبر اووايه اوکينه په ناسته دغه کلمات لس ځل اووايه بيابغير اَللهُ اَكۡبَرُ نه اودريږه دغسې طريقه به په څلور واړه رکعتونوکښې وکړے اوپه هررکعت کښې به دغه کلمات (٧٥)شی اوټول به (٣٠٠) درےسَوَه شی.
بله طريقه ئے داده چه سُبۡحَانَكَ اللّٰهُمَّ نه پس اَلۡحَمۡدُ،نه مخکښې ئې پنځلس ځل اووايه اوبيا د اَلۡحَمۡدُ اودسورت نه پس په ولاړه ئے لس ځل اووايه باقی نوره ټوله طريقه داولے پشان ده،البته دے صورت کښې نه خودويمے سجدے نه پس دناستے ضرورت شته اونه هلته دغه کلماتو دويلو.

فائده

(١) صلوٰة التسبيح کښې که څوك سهوشو نوسجده سهو کښې به داکلمات نه وائے.
(٢) که دچانه په يومقام کښې داکلمات هيرشونوپه بل مقام کښې دے پوره کړی مثلاً اوله سجده کښې هيرشونوپه دويمه سجده کښې به ئې پوره کړی سوا دقومے اوجلسے نه.
(٣) ددے کلماتو دشمارلو دپاره به په ګتو زور کوې اودعام شمار پشان شماربه نه کوې.

(٤) دامونځ روزانه.کول پکاردی که دچاطاقت نه وی په هفته کښې دے یوځل کوی ورنه په میاشت کښې یاپه کال کښې اخر داچه په عمرکښې یوځل کول پکاردی.
(٥) په بعض روایاتوکښې وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ هم شته نودا الفاظ ورسره هم ویلے شی (مرقات)
(٨) که داکلمات دچانه پاتے شی نوسجده سهوه پرے نشته.

قنوت نازله

اَللّٰهُمَّ اهْدِنِیْ فِیْمَنْ هَدَیْتَ وَعَافِنِیْ فِیْمَنْ عَافَیْتَ وَتَوَلَّنِیْ فِیْمَنْ تَوَلَّیْتَ وَبَارِكْ لِیْ فِیْمَا اَعْطَیْتَ وَقِنِیْ شَرَّمَا قَضَیْتَ فَاِنَّكَ تَقْضِیْ وَلَا یُقْضٰی عَلَیْكَ اِنَّهٗ لَا یَذِلُّ مَنْ وَّالَیْتَ وَلَایَعِزُّمَنْ عَادَیْتَ تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَیْتَ ۞ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُؤْمِنِیْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُسْلِمِیْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ ۞ اَللّٰهُمَّ اَلِّفْ بَیْنَ قُلُوْبِهِمْ. وَاجْعَلْ فِیْ قُلُوْبِهِمُ الْاِیْمَانَ وَالْحِكْمَةَ. وَثَبِّتْهُمْ عَلٰی مِلَّةِ رَسُوْلِكَ. وَاَوْزِعْهُمْ اَنْ یَّشْكُرُوْا نِعْمَتَكَ الَّتِیْٓ اَنْعَمْتَ عَلَیْهِمْ. وَاَنْ یُّوْفُوْابِعَهْدِكَ الَّذِیْ عَاهَدْتَّهُمْ عَلَیْهِ. وَانْصُرْهُمْ عَلٰی عَدُوِّكَ وَعَدُوِّهِمْ. اِلٰهَ الْحَقِّ سُبْحَانَكَ لَآ اِلٰهَ غَیْرُكَ ۞ اَللّٰهُمَّ أَعِزَّ الْإِسْلَامَ وَالْمُسْلِمِیْنَ ۞ اَللّٰهُمَّ الْعَنِ الْكَفَرَةَ الَّذِیْنَ یَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِیْلِكَ وَیُقَاتِلُوْنَ اَوْلِیَآئَكَ وَیُكَذِّبُوْنَ رُسُلَكَ ۞ اَللّٰهُمَّ خَالِفْ بَیْنَ كَلِمَتِهِمْ وَزَلْزِلْ اَقْدَامَهُمْ وَشَتِّتْ شَمْلَهُمْ وَمَزِّقْ جَمْعَهُمْ وَخَرِّبْ بُنْیَانَهُمْ وَخُذْهُمْ اَخْذَعَزِیْزٍ مُّقْتَدِرٍ وَاَنْزِلْ بِهِمْ بَأْسَكَ الَّذِیْ لَاتَرُدُّهٗ عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِیْنَ ۞ اَللّٰهُمَّ اشْدُدْ وَطْاَتَكَ عَلٰی مَنْ عَادَاهُمْ ۞ اَللّٰهُمَّ انْصُرِ الْمُجَاهِدِیْنَ الَّذِیْنَ یُجَاهِدُوْنَ فِیْ سَبِیْلِكَ لِاِعْلَآءِ كَلِمَتِكَ وَلِاِقَامَةِ سُنَّةِ نَبِیِّكَ ۞ اَللّٰهُمَّ انْصُرِالْمُجَاهِدِیْنَ فِیْ فَلَسْطِیْنَ ۞ اَللّٰهُمَّ انْصُرِالْمُجَاهِدِیْنَ فِیْ كَشْمِیْرِ ۞ اَللّٰهُمَّ انْصُرِالْمُجَاهِدِیْنَ فِیْ شِیْشَانَ ۞ اَللّٰهُمَّ انْصُرِالْمُجَاهِدِیْنَ فِی الْعِرَاقِ ۞ اَللّٰهُمَّ انْصُرِالْمُجَاهِدِیْنَ فِیْ اَفْغَانِسْتَانِ وَخُصُوْصًا فِیْ وِلَایَةِ كُنَرْ ۞ اَللّٰهُمَّ انْصُرِالْمُجَاهِدِیْنَ فِیْ كُلِّ مَكَانٍ ۞ اَللّٰهُمَّ انْصُرْهُمْ نَصْرًا عَزِیْزًا وَافْتَحْ لَهُمْ فَتْحًا مُّبِیْنًا ۞ اَللّٰهُمَّ عَلَیْكَ بِالْیَهُوْدِ ۞ اَللّٰهُمَّ عَلَیْكَ بِالنَّصَارٰی ۞ اَللّٰهُمَّ عَلَیْكَ بِالْمُشْرِكِیْنَ ۞ اَللّٰهُمَّ عَلَیْكَ بِالْكُفَّارِ اَجْمَعِیْنَ ۞ اَللّٰهُمَّ اِنَّانَجْعَلُكَ فِیْ نُحُوْرِهِمْ وَنَعُوْذُبِكَ مِنْ شُرُوْرِهِمْ ۞ اَللّٰهُمَّ عَلَیْكَ بِالْاَمْرِیْكِیِّیْنَ وَالرُّوْسِیِّیْنَ رَبَّنَا اطْمِسْ عَلٰٓی اَمْوَالِهِمْ وَاشْدُدْ عَلٰی قُلُوْبِهِمْ فَلَایُؤْمِنُوْا حَتّٰی یَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِیْمَ ۞ اَللّٰهُمَّ خُذْهُمْ اَخْذَعَزِیْزٍ مُّقْتَدِرٍ ۞ اَللّٰهُمَّ اَهْلِكْهُمْ كَمَآاَهْلَكْتَ عَادًا وَّثَمُوْدًا ۞ اَللّٰهُمَّ اَنْجِ اِخْوَانَنَا الْمَسْجُوْنِیْنَ ۞ اَللّٰهُمَّ اَنْجِ اِخْوَانَنَا

الْمَحْصُوْرِيْنَ۞ اَللّٰهُمَّ اٰتِ بِهِمْ سَالِمِيْنَ فَاتِحِيْنَ۞ اَللّٰهُمَّ اٰتِ بِهِمْ غَالِبِيْنَ غَانِمِيْنَ رَبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَاِلَيْكَ اَنَبْنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ.

وَصَلَّى اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ

داستخارې دعا

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ أَسْتَخِيْرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَأَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيْمِ فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَا أَعْلَمُ وَأَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هٰذَا الْأَمْرَ خَيْرٌ لِّيْ فِيْ دِيْنِيْ وَمَعَاشِيْ وَعَاقِبَةِ أَمْرِيْ فَاقْدِرْهُ لِيْ وَيَسِّرْهُ لِيْ ثُمَّ بَارِكْ لِيْ فِيْهِ وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هٰذَا الْأَمْرَ شَرٌّ لِّيْ فِيْ دِيْنِيْ وَمَعَاشِيْ وَعَاقِبَةِ أَمْرِيْ فَاصْرِفْهُ عَنِّيْ وَاصْرِفْنِيْ عَنْهُ وَاقْدِرْ لِيَ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ اَرْضِنِيْ بِهٖ.

(حصن حصين)

دجنازے دمونځ طريقه اودعاء

اول به نيت دزړه وکړےچه څلور تکبيره دجنازے مونځ کوم په دے امام پسے بيابه اَللّٰهُ اَکْبَرْ اوائي بيابه ثناء اوائي اويه ثناء کښې "وَجَلَّ ثَنَاءُكَ" لفظ په صحيح رواياتو کښې نشته نويه عاموموتځونوکښې چه کومه ثناء ده هغه به وائي دثنا اودرود ترجمه مځکے دمونځ په ترجمه کښې ليکلے شويده .ليکن غوره درود، درود ابراهيمی دےاوثواب ئې هم زيات دے اوعام خلق چه کوم درود وائي دهغےثبوت په مشهوروکتابونو دحديثوکښې نشته اګرچه غيرمشهور کتابونوکښې شته اوزمونږ دفقهي کتابونه هم وائي چه مرادترينه دورد ابراهيمی دےاوس صرف ددعاء ترجمه ليکو،کچرے مړے بالغ وی نودادعاء به وا ئي.

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا

اےالله وبښه جوندی زمونږ اومړه زمونږاوپدے جنازه کې حاضرين زمونږ

وَغَائِبِنَا وَصَغِيْرِنَا

اوغائب زمونږ (چه څوك دلته حاضرنه دی)اوماشومان زمونږ

وَكَبِيْرِنَا وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا

اولوئ زمونږ اونارينه زمونږاوزنانه زمونږ

اَللّٰهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهٗ مِنَّا فَأَحْيِهٖ

اے الله چه څوك جوندي (پيدا كوے) ته زموږنه نوجودي ئې(پيدا) کړه

عَلَى الْإِسْلَامِ وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الْإِيمَانِ

په دين اسلام اوڅوك چه مړه كوے زموږ نه نومړه ئې كړه په ايمان

دماشوم يعنې نابالغ دعاء

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا

اے الله جوړ كړه دماشوم زموږ دپاره مخكے ليږلے شوے(توښه)

وَاجْعَلْهُ لَنَا اَجْرًا وَّذُخْرًا

اوجوړ كړے دماشوم زموږ دپاره ثواب اوخزانه

وَاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا

اوجوړ كړے دماشوم زموږ دپاره سفارش كونكے چه سفارش ئې قبول شوےوی

اوكه چرےمړے ماشومه وه نو وَاجْعَلْهُ په ځائے وَاجْعَلْهَا وائې.

اودشَافِعًا وَّمُشَفَّعًا په ځائے به شَافِعَةً وَّمُشَفَّعَةً وائی.

تحية الوضوء

داودس نه پس دوه ركعاته نفلوكولو په احاديثوكښې ډيرلوی فضيلت راغلےدے

حديث:حضرت عقبه بن عامرؓ نه روايت دے چه نبی كريم ﷺ اوفرمايل كوم مسلمان چه په ښه طريقه سره اودس كوی اوبيا ودريږی اودوه ركعاته مونځ (نفل) وكړی دغه شان دده دظاهر اودزړه پوره توجه په دے دوه ركعاتونو كښې وی ،كوم انسان چه داسے كوی دهغه دپاره جنت واجب كيږی.(مسلم ص۱۲۲)

تحية المسجد

دامستحب طريقه ده كله چه يومسلمان جومات ته داخل شی ،اووخت هم مكروه نه وی نودوه ركعاته مونځ وكړی دكيناستلونه مخكښې.دېته تحية المسجد وائی.

دادمسجد دتعظيم دپاره چه په حقيقت كښې دالله تعالیٰ تعظيم دے.

حدیث:اوبوقتادهؓنه روایت دے چه نبی ﷺ اوفرمائیل جه کله په تاسوکښې یوکس مسجد ته داخل شی نودوه رکعاته تحیة المسجد دےوکړی،دکیناستلونه مخکښې.

صلوٰة الاشراق

صلوٰة الاشراق د نمردراختلونه پس چه کوم نفل اداکیږی .دسحر دمونځ د اداکولونه پس چه په خپل ځائے کینے اوذکر اودرود شریف،اوتلاوت وغیره کوے اودنیاوی خبرے نه کوے ترنمرراختلوپورے اوکله چه نمرخه راوخیژی اودوه رکعاته مونځ وکړے نوپه دغه مونځ باندے دیوحج اودیوعمرے برابر ثواب ملاویګی.

حدیث:حضرت انسؓ بن مالك وائی چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چاچه دسحرمونځ په جمع سره ادا کړو بیاهغه کیناستو اودالله تعالیٰ ذکرئې کولو،تردےپورے چه نمرراوختلو بیاهغه دوه رکعاته داشراق مونځ ادا کړو نو ده ته به دحج اودعمرے ثواب ملاویګی.

(الترغیب والترهیب صـ۱٦٤،ج۱)

صلوٰة الضحیٰ (یعنې دچاشت مونځ)

کله چه داشراق وخت ختم شی ددغے نه پس دچاشت وخت شروع شی .تقریبًا ۹،۱۰ بجے دغه مونځ کولے شی ددغه مونځ کم از کم دوه رکعاته وی اوزیات ئې دولس ۱۲ رکعاته دی

حدیث:حضرت ابوذر غفاریؓنه روایت دے چه نبی کریمﷺ ووفرمائیل په تاسوکښې دهریوانسان په هریواندام باندے صدقه ده،د شپے نه پس کله چه په سلامتیٔ سره یوانسان صباح کړی نوپه هریواندام باندے ئې صدقه لازمیږی .نوبس هره تسبیح صدقه ده اوهر تحمد صقه ده اوهر تهلیل صدقه ده (سبحان الله ویل الحمدالله ویل او الله اکبر ویل صدقه ده)امربالمعروف اونهی عن المنکر دنیکیٔ کار کول اودبدونه خلق منعه کول داصدقه ده،او د دغه ټولو په ځائے باندے دوه رکعته مونځ دچاشت په وخت کښې کفایت کوی.(مسلم صـ۲۵۰ ج۱)

دحضرت ابوبکرؓنه روایت دے چه نبی کریم ﷺاوفرمائل چه دکوم انسان نه چه کومه گناه وشی هغه دے اودس اوکړی او دوه رکعاته مونځ دے ادا کړی اودالله تعالیٰ نه دے مغفرت اوغواړی،نوالله تعالیٰ به هغه معاف کړی،بیا نبی کریم ﷺدا ایت وو ویلو.

وَ الَّذِیْنَ اِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً اَوْ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللّٰهَ فَاسْتَغْفَرُوْا لِذُنُوْبِهِمْ ۪ وَ مَنْ یَّغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اللّٰهُ ۪۫ وَ لَمْ یُصِرُّوْا عَلٰى مَا فَعَلُوْا وَ هُمْ یَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳۵﴾ (ال عمران ۱۳۵)

ترجمه:اوهغه کسان چه کله وکړی،بے حیائۍ،اویاظلم وکړی په ځانونو خپلو یادکړی الله تعالیٰ لره ،پس بخنه اوغواړی دگناهونو خپلو، اوڅوك دےچه بخنه وکړی دټولو گناهونو، سِوادالله تعالیٰ نه،اونه ټینگیږی په هغه چه دوئ کوی اودوئ پوهیږی.

حدیث:حضرت حسن بصریؒ روایت رانقل کړےدے چه نبی کریم ﷺ اوفرمائل چه دیو بنده نه کومه گناه وشی ،اوبیاهغه په خه شان سره اودس وکړی باهر په یوپراخه ځے صحرا وغیره کښې دوه رکعاته مونځ وکړی اودالله تعالیٰ نه بخنه اوغواړی.نودغه گناه به الله تعالیٰ دغه انسان ته معاف کړی.(الترغیب والترهیب ص۲٤۱ج۱)

دزنانه اونارینه په مونځ کښې فرق

(۱) زنان به په مونځ کښې ټول بدن پټ ساتی سِوا دمخ لاس قدمونو نه

(۲) دواړه لاسونه به په ځادر،لوپټه کښې دننه اوگوپورے چرتوی.

(۳) دواړه لاسونه به په سینه گدی.

(٤) دښی لاس ورغوےبه دچپ لاس په شاگدی.

(٥) دقیام په حالت کښې به قدمونه یوبل ته نږدےساتی.

(٦) په رکوع کښې به شا،اوسر،اوکناتی برابر نه ساتی یعنې ډیره به نه ښکته کیږی.

(۷) په رکوع کښې به په زنګنونو کولاؤ لاسونه نه ګدی بلکه ګوتے به بوځائے کوی.

(۸) په رکوع کښې به خپے بلکل نه سیده کوی بلکه مخکښې طرف ته به ئے لږ شانته اوږسی.

(۹) لاسونه به تر ځونوسره جوخت ساتی.

(۱۰) خیټه به پټنو نوسره جوخته ساتی.

(۱۱) په رکوع کښې به دواړه زنګنونه هم یوبل ته نژدے ساتی.

(۱۲) څنګلے به دزمکے سره جوختے ساتی.

(۱۳) دکیناستو په حالت کښې به دواړه خپے ښی طرفته اوباسی اوپه زمکه به کینی.

(۱٤) په قعده کښې به دلاسونو ګوتے یوبل سره جوختے ساتی.

(۱۵) دسحر مونځ دزنانو لپاره وختے په تیاره کښې بهتر دے.

(۱٦) په مونځ کښې به قرأت په زوره نه کوی.

(۱۷) زنانه دنورو زنانو لپاره دجمع مونځ نشی کولے دفتنے دیرے.

(۱۸) دتراویح یانفل مونځ امامتی ورله هم مکروه ده.

(۱۹) دسړی سره په یوصف کښې نشی ودریدلے.

(۲۰) امام ته په ژبه فتحه نشی ورکولے بلکه په لاس به ئے ورکوی،دغسې نور ډیر فرقونه دی علماؤ د دیرشونه زیات لیکلی لیکن اختصارًا دا هم کافی دی.

دزیات تفصیل دپاره اوده دلائلودپاره دبنده بل کتاب"دزنانه اونارینه په مونځ کښې فرق"ته توجه وکړئ.

فصل ثالث

(شپږنمبرے)

اوله کلمه طیبه: لاالٰه الا الله محمدٌرّسول الله.

دکلمے معنیٰ داده :چه نشته دےلائق دعبادت سِوا دالله تعالیٰ نه اومحمدرسول الله ﷺ دالله تعالیٰ رسول دے.

دکلمے مقصد دادے: چه الله تعالیٰ دَمخلوق دایرادے نه بغیر هرڅه کولےشی اومخلوق دالله تعالیٰ دایرادے نه بغیر هیڅ نشی کولے یعنی ټول مخلوق الله تعالیٰ ته محتاج دےاو الله تعالیٰ چاته محتاج ندے.اودنبی پاکﷺ په طریقوکښ په دواړو جهانو نو کښ کامیابی ده اودغیرویه طریقو کښ تاوان اونقصان دے.

فضیلت دکلمے دادے

(۱) چاچه داکلمه په اخلاص اویله جنت ته به ځی.

(۲) نبیﷺ فرمائی چه زه دلااله الا الله دتعلیم دپاره رالیږلےشوےیم اودیته به خلق رابلم.

(۳) نبیﷺ فرمائی دلااله الاالله واله ته دجنت زیرے ورکړئ.

(٤) نبیﷺ فرمائی لااله الا الله دجنت چابی ده.

دویم مونځ دے

چه دمونځ مقصد دادے چه مونځ نه بهر زندگی زمونږه دمونځ په صفاتو کښ راشی یعنی چه څنګه په مونځ کښ دالله تعالیٰ تابعداریوؤ دغه شان دمونځ نه بهر هم دالله تعالیٰ تابعدار شو.

فضیلت دمونځ دادے

(۱) الله تعالیٰ فرمائی مونځ دناروا اوبدو کارونو نه منعه کول کوی.

(۲) الله تعالیٰ فرمائی چه زما مؤمنانو بندګانو ته اوایه چه سم مونځ کوی.

(۳) الله تعالیٰ فرمائی چه هغه مؤمنان کامیاب دی چه دمانځه حفاظت کوی.

(٤) نبیﷺ فرمائی چه الله تعالیٰ فرمائی چه زما دبنده سره وعده ده چه هغه په خپل وخت مونځ کوی نوزه به عذاب نه ورکوم اوجنت ته به ئے بغیر حساب داخلوم.

(٥) شامی (صفحه ٦٧) کښې وائی چه خوب په دنیا کښې راحت دےاومونځ په آخرت کښې راحت دے.

دریم علم اوذکر دے

دعلم مقصد دادے چه دحال امر وپیژنو یعنی چه په دے حال کښې ماته دالله تعالیٰ څه حکم متوجه دے، اودعلم مقصد داهم دےچه هرکار دالله تعالیٰ دحکم اودنبیﷺ دطریقے مطابق یادکړو.پخپله ځان په دین پوهه کړو اونورو ته ئے هم وښایو.

فضیلت دعلم دادے

(۱) الله تعالیٰ فرمائی چه عالم اوجاهل برابر نه دی.

(۲) نبیﷺ فرمائی یوفقیه عالم دین په شیطان دزرو عابدانو نه گران دے.یعنی دزور عابدانو گمراه کول ورته آسان دی اوعالم گمراه کول ورته گران دی.

(۳) الله تعالیٰ به قیامت کښې فرشتوته اوائے چه زما گاونډیان څه شو نوفرشتے به ورته وائے چه ستا گاونډیان څوك دی الله تعالیٰ به ورته اووائے څه شوهغه دقرآن لوستونکی اودجماعتونو آبادونکی،یعنی دغه خلق زمادوستان دی.

(٤) نبیﷺ فرمائی چاته چه الله تعالیٰ دخیر اراده وکړی نوددین پوهه ورکړی.

(٥) نبیﷺ فرمائی یاعالم شه یاطالب شه یاد دوئی خادم شه اوڅلورم مه جوړیږه هلاك به شے.

دذکر مقصد دادے

دالله تعالیٰ دِهان زمونږنصیب شی یعنی الله تعالیٰ هروخت ماوینی،ماته گوری، زماخبرے اوری.

دذکر فضیلت دادے

(۱)الله تعالیٰ فرمائی:خبردار دالله تعالیٰ په ذکر زړونوته اطمنان حاصلیږی، اوالله تعالیٰ فرمائی :ماډیر ډیر یادوئی.

(۲) الله تعالیٰ فرمائی تاسو مایادکړئی زه به تاسویادکړم.

(۳) حدیث قدسی کښې راځی:اے د آدم ځویه که تازما ذکر وکړو نو زما شکر دے اداء کړو او که تازه هیرکړم نوزما ناشکری دِوکړه.

(٤) دقرآن ارشاددے: چه دالله تعالیٰ ذکرسحر اوماښام کوه.

(٥) حدیث قدسی کښې دی:چه زه دخپل بنده سره ورسره یم کله چه زما ذکر کوی اوپه ماشونډے خوزوی.

خلورم اکرام مسلم

داکرام مسلم مقصد دادے: چه دهر مسلمان دهغه مناسب عـزت اواحـترام وکـړو، اوبـل مسلمان دزان نه اوچت وګنړو، اودمسلمان عزت دهغه دایمان دوجې وکړو.

فضیلت ئې دادے

(۱) الله تعالیٰ فرمائی مؤمن غلام ډیربنه دےدمشرك نه اګرچه تاتعجب کنبې اچوی.

(۲) حدیث کنبې راځی چه الله تعالیٰ دمؤمن ټول (واړه ګناهونه) په یوشپه تبې (یعنې بخار) سره معاف کوی.

(۳) نبیﷺ فرمائی دچاچه په الله تعالیٰ او ورځ دقیامت ایمان وی نو دخپل میلمه عزت دِ کوی.

(٤) نبیﷺ فرمائی څوك چه سحردمسلمان بیمار تپوس ته لاړشی نو (اویازره) فرشتے ورله بخنه غواړی دمابنام پورےاوکه مابنام لاړشی نودسحر پورے ورله بخنه غواړی.

(٥) نبیﷺ فرمائی څوك چه دمسلمان رور ملاقات ته لاړشی نوپه لاره کنبں ورته فرشته آواز کوی چه تابنه کار وکړو اوستا داقدمونه بنه دی اوتازان ته جنت کنبې کـور جـوړ کـړو.

پنځم صحیح نیت

دصحیح نیت مقصد دادے: چه هربنه کار دالله تعالیٰ درضاءدپاره کوو دبل چارضـاء مقصـدنه وی.

دصحیح نیت فضلت دادے

(۱) الله تعالیٰ فرمائی ستاسو (دقربانئ) غوبنے او وینه الله تعالیٰ ته نه رسیږی مګر الله تعالیٰ ته ستاسو تقویٰ رسیږی یعنی اخلاص.

(۲) نبیﷺ فرمائی دټولو عملونو دارو مدار په نیت سره دے.

(۳) نبیﷺ فرمائی الله تعالیٰ ستاسو جسمونو اوشکلونوته نه ګوری لیکن ستاسو زړونو اوعملونو ته ګوری.

(٤) یوسړی نبیﷺ ته آواز وکړو چه ایمان څه ته وائی نبیﷺ ورته اویل ایمان اخلاص ته وائی.

(٥) نبیﷺ فرمائی پټه صدقه دالله تعالیٰ غصه ختموی.

شپږم دعوت تبليغ

ددعوت تبليغ مقصد دادے چه ټخپله هم ښه کار کوو اونور خلق به هم ښه کارونو ته رابلو،يعنی ټخپله هم مبلّغين شو اونورهم مبلّغين کړو.

(١) الله تعالیٰ فرمائی:خلق دالله تعالیٰ لارته رابله دحکمت اوښائسته وعظ سره.

(٢) الله تعالیٰ فرمائی:امربالمعروف اونهی عن المنکر کوئی ګځکښ د دينه چه تاسو به دعاء ګانے کوئ اوزه به ئےنه قبلوم،اوتاسو به سوالونه کوئ زه به ئےنه قبلوم،اوتاسوبه زمانه مددغواړئ زه به ستاسو مددنه کوم.

(٣) نبی ﷺ فرمائی هغه څوك زمونږ نه ندے چه زمونږه په ماشومانو رحم نه کوی اوزمونږ دمشرانو عزت نه کوی،اودښو کارونو امرنه کوی اودبدوکارنونه منع نه کوی.

(٤) نبی ﷺ علیؓ ته وفرمائل:که چرته ستاپه وجه الله تعالیٰ يوسړی ته هدايت وکړی نوداستا دپاره دسرو اوښانونه غوره ده.

(٥) لقمان حکيم خپل ځوی ته ويلي وؤ اے بچوړيه:مونځ کوه اود نيکو کارونو حکم کوه دبدو کارونونه منع کوه اوصبرکوه په هغه څه چه تاته رسيږی يقينا دادغټوکارونونه دی.

فصل رابع

(زنانه به دچانه پرده کوی)

(١) ليور نه پرده کول. (٢) دتره ځوی نه پرده کول.
(٣) دماما ځوی نه پرده کول. (٤) دخور خاوند يعنی(اوخی)نه پرده کول.
(٥) دترور خاوند نه پرده کول. (٦)دنکاح دوکيل يعنی نکاح پلارنه پرده کول.
(٧) دخاوند دمامانه پرده کول. (٨) دخاوند دتره نه پرده کول.
(٩) دترور ځوی نه پرده کول. (١٠) داندرورخاوندنه پرده کول.وغيره.

(زنانه به دچانه پرده نه کوی)

(١) پلانه به پرده نه کوی. (٢) رور نه به پرده نه کوی. (٣) ځوئ نه به پرده نه کوی.
(٤) دبنزونه به پرده نه کوی. (٥) دپلاردطرفه نيکه ورنيکه نه به پرده نه کوی.

(٦) دغسې دمور دطرفه نیکه ورنیکه نه به پرده نه کوی.

(٧) نسو کروسو نه به پرده نه کوی. (٨) ماما نه به پرده نه کوی. (٩) تره نه به پرده نه کوی.

(١٠) سخرنه اودسخر پلار ،نیکه نه به پرده نه کوی.

(١١) وراره نه به پرده نه کوی. (١٢) خورئے یعنی دخور ځوی نه به پرده نه کوی.

(١٣) خاوند نه به پرده نه کوی. (١٤) دلور دخاوند نه(ځوم) نه به پرده نه کوی.

(١٥) رضاعی رور وغیره یعنی درضاعت دوجے هغه څه حرامیږی کوم چه دنسب دوجے حرام وی.

فصل خامس

دجُمعِ خطبه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ اَحْمَدُهٗ وَاَسْتَعِيْنُهٗ وَاَسْتَغْفِرُهٗ وَنَسْأَلُهُ الْكَرَامَةَ فِي الدُّنْيَا وَفِيْ مَابَعْدَ الْمَوْتِ فَاِنَّهٗ قَدْدَنَا اَجَلِيْ وَاَجَلُكُمْ وَاَشْهَدُاَنْ لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْكَ لَهٗ وَلَاوَزِيْرَلَهٗ وَلَامُشِيْرَلَهٗ وَاَشْهَدُاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ اَرْسَلَهٗ بِالْحَقِّ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا وَسِرَاجًا مُّنِيْرًا لِيُنْذِرَ مَنْ كَانَ حَيًّا وَّيَحِقَّ الْقَوْلُ عَلَى الْكَافِرِيْنَ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ رَشَدَ وَمَنْ يَّعْصِهِمَا فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُّبِيْنًا .اَمَّا بَعْدُ فَيَااَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ اُوْصِيْكُمْ بِتَقْوَى اللّٰهِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ اَلَاوَخَيْرُالْكَلَامِ كَلَامُ اللّٰهِ وَاَحْسَنَ الْهَدْيِ هَدْىُ مُحَمَّدٍ ﷺ وَشَرُّ الْاُمُوْرِ مُحْدَثَاتُهَا وَكُلُّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٍ وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٍ وَكُلُّ ضَلَالَةٍ فِي النَّارِ وَمَنْ اَطَاعَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ رَشَدَ وَمَنْ يَعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ غَوٰى رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِلَّذِيْنَ آمَنُوْا رَبَّنَا اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ الْعَظِيْمُ الْحَلِيْمُ لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَرَبُّ الْاَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ.

الخطبة الثانية

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَاهَادِيَ لَهٗ. اَمَّا بَعْدُ فَيَااَيُّهَا النَّاسُ لَاتَقْنَطُوْامِنْ رَحْمَةِ اللّٰهِ فَاِنَّهٗ اَرْحَمُ الرَّاحِمِيْنَ وَلَا تُحِبُّوْا الدُّنْيَا فَتَكُوْنُوْا مِنَ الْخَاسِرِيْنَ اَلَا وَاِنَّ نَفْسًا لَنْ تَمُوْتَ حَتّٰى تَسْتَكْمِلَ رِزْقَهَا فَاتَّقُوْااللّٰهَ وَاَجْمِلُوْا فِي الطَّلَبِ وَتَوَكَّلُوْا عَلَيْهِ فَاِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِيْنَ وَادْعُوْهُ فَاِنَّ رَبَّكُمْ مُجِيْبُ

الدَّاعِيْنَ وَاسْتَغْفِرُوْهُ يُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ. إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْماً:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ. إِنَّ اللهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيْتَاءِ ذِي الْقُرْبٰى وَيَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ. اُذْكُرُوا اللهَ يَذْكُرْكُمْ وَادْعُوْهُ يَسْتَجِبْ لَكُمْ وَلَذِكْرُ اللهِ تَعَالٰى اَوْلٰى وَاَعَزُّ وَاَهَمُّ وَاَتَمُّ وَاَعْظَمُ وَاَكْبَرُ.

دنکاح خطبه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ. اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا اتَّقُوا اللهَ حَقَّ تُقَاتِهٖ وَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ۞ يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّنِسَاءً وَاتَّقُوا اللهَ الَّذِيْ تَسَاءَلُوْنَ بِهٖ وَالْاَرْحَامَ اِنَّ اللهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا۞ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا۞ يُصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَمَنْ يُّطِعِ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا۞ سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ۞ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ۞ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ۞

فصل سادس

په تندی تور داغ څنګه دے؟

بعض ناپوهه خلقو په تندی تور داغ جوړ کړےوی ددے دپاره چه داخلق راته مونځ ګوزار اوایئ:اوکه تپوس ترینه وکړے نووائے چه قرآن مجید کښې الله فرمائي.

سِيْمَاهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُوْدِ:نښے د دوئي په مخونو کښې دی دوجے دسجدونه :لیکن دامعنیٰ ددےایات نه اغستل چه ددینه تور داغ مراد دے.دهیڅ مفسر۔اوعالم نه نقل ندی اوددینه سیوا پکښې ګڼراقوال دی.زه ئے مختصر ذکر کوم.

[۱] دقیامت په ورځ سپین والے دمخ مراد دےلکه قرآن کښې راځی.

يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ: اودامعنی عطیه دابن عباسؓ نه نقل کړے.

[۲] انسؓ وائي دا دمخ رڼرا ده دډیرو مونځونو دوجے.

[۳] شهربن حوشبؒ وائي دمؤمنانو مخونه به قیامت کښې دځوارلسمے سپوږمۍ پشان پرقیږي.

[٤] مجاهدؒ وائي ددینه مراد عاجزی اوخشوع ده.

[٥] ضحاكؒ وائي: ددینه مراد دمخونو زیړوالے دے په دنیا کښې د ډیرعبادت دوجے.

[٦] عکرمه وائي: مراد ترینه دخاورے اثر دے چه په زمکه سجدے کوی نوخاورے وریسې وی اوداقول دابو العالیه هم دے.

[۷] عطاء وائي: څوك چه دشپے مونځ کوی دورځے به ئے مخ روښانه وی. په یوموقوف حدیث کښې هم راځی چه څوك دشپے مونځ کوی دورځې به ئے مخ روښانه وی.

لیکن دا تور داغ هیچاندے ذکر کړے .(شربینی ص ۸۷ ج۷)

انسؓ فرمائے چه نبی ﷺ به فرمایل: انی لابغض الرجل واکرهه اذا رأیت بین عینیه اثر السجود.(شربینی ص۸۸)

زه کینه کوم اوبدګڼرم هغه سړے چه دسترګو په مینځ کښې دسجدے داغ وینم. دبعض متقدمینو نه نقل دی چه مونږ به مونځونه کول لیکن زمونږ په تندی داغونه نه جوړیدل اوس مونږه وینو چه یوکس په مونږ کښې مونځ کوی نو په تندی ئے داوښ دزنګون پشان داغ جوړ شوے وی. نومونږته پته نشته چه ددے خلقو سرونه درانه شوی اوکه زمکه زیګه شوی ده بقاعیؒ وائي دا ګمان مکوئ چه دښو نه دغه توره نښه مراد ده. کوم چه ریاکار خلق په خپلو تندو جوړوی بلکه دا دځوارجونښه ده، او په نهایه دابن الاثیر کښې دابودرداء قول رانقل کړے چه هغه یوسړے ولیدلو چه په تندی داوښ دزنګون پشان داغ وو نو ابودرداء ورته اویل که دا داغ نوے نو ډیربښه به وے .(خطیب ص۸۸ج۷)

ابن کثیر په ص ۲٥٤ ج٤ کښې فرمائي:

داداغ کله دهغه سړي په تندی وی چه زړه ئےدفرعون نه زیات سخت وی.نوتولو مسلمانانو ته درخواست دے چه په تندی دا داغونه مه جوړوئ څکه مونږ پخپله ډیرناپوهه لیدلی چه په زوره ئے جوړه وی.اوکه دچاپه تندی پخپله جوړوی نوهغه گناه گارندے څکه چه د ده پکښې دخل نشته او دا داغ دا کثرو بریلیانو اومبتدعینو اوناپوهه مسلمانانو په تندو وی کتاب مختصر دے تفصیل مےڅکه ونکړو.

فصل سابع

دقرآن متعلق څه خبرے

(۱) دقرآن تولےسپارے [۳۰] دی.(۲) تول سورتونه [۱۱٤] دی.(۳) مکی سورتونه [۸٦] دی.اومدنی سورتونه [۲۸] دی.(٤) دقرآن دنزول موده تقریبًا [۲۳] کاله ده.دمکی سورتونو نه مراد هغه سورتونه دی چه دهجرت نه مخکښې نازل شوی دی اومدنی هغه دی چه دهجرت نه روستو نازل شوی وی.(٥) دتولو نه لوئے سورت سورتِ بقره ده او دتولونه ورکوتے سورت سورتُ الکوثر دے.(٦) په قرآن کښې تول څوایاتونه دی نویه دے کښې اختلاف دےاو داختلاف وجه داده چه دځنے آیاتونو په آخر باندے نبی پاکﷺهمیشه وقف کړےنوهغه خویه اتفاق آیة شماریدلے شی لیکن په ځنے مقاماتو کښې نبیﷺ کله وقف کړے کله نه .ددے وجے نه بعضےعلماؤ دغه آیت شمار کړے بعضےندےشمار کړےبعض وائي تول آیاتونه[٦٢١٧] دی بعض وائي[٦٢١٤]دی بعض وائي[٦٢١٠]دی کوفیان وائي [٦٢٣٦] دی بعض وائي [٦٢٠٠] دی لیکن په زیادت کښې اختلاف دےالبته کوم روایت چه عام مشهوردےچه [٦٦٦٦] ایاتونه دی نو ددےهیڅ اصل نشته.

(آپ کے مسائل کا حل،مفتی محمد صاحب ص۲۳۹ج۱)

(۷) دتولو نه ړومبےنازلیدونکےسورت سورتُ العلق دےاو اخر سورت سورتِ النصر دے.

(۸) دتولونه لوئے آیت ،آیت مداینه دےچه دسورت بقره [۲۸۲]نمبرآیت دےاودتولو نه ورکوتے آیت دسورتِ مدثر[۲۱]نمبر آیت دے.ثُمَّ نَظَر.(۹) تول رکوع گانے [٥٤٠] تولے سجدے[١٤]دی.(۱۰) منزلونه [۷]دی.(۱۱) حروف [۳۲۳۷٦٠]دوه دریش زره درےسوه شپږ

